UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communications
Briefing to the Security Council
http://unama.unmissions.org

# ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سرمنشي د ځانګړي استازي، ښاغلي تدامیچي یاماموتو راپور

[په هغه بڼه، چې وړاندې شوی]

## نیویارک، ۲۰۱۶ کال د سپټمبر ۱۴مه

***

ښاغلی رئیس او د شورا غړو،

د افغانستان نني وضعیت ته چې ګورم، فرصت او هیلې پکې وینم، خو سترې ننګونې لا هم په مخ کې پرتې دي. په تېرو پنځلسو کلونو کې د افغانانو لخوا شوی پرمختګ د لا نورو پرمختګونو لپاره فرصتونه برابروي، او د فرصت په شتون کې هیلې او امیدونه منځته راځي.

دا ننګونې له شاوخوا ۴۰ کاله جنګ جګړو څخه راپاتې دي. افغانستان د واقعي پرمختګ سربېره لا هم اوږده لاره په مخ کې لري څو د خپلو خلکو اړتیاوې په بشپړه توګه پوره کړي. د بروکسل په راتلونکي کنفرانس کې بریالیتوب به افغان حکومت ته د دې وخت او فرصت ورکړي څو د ثبات او ځان بسیاینې په لور ګامونه پورته کړي. حکومت باید له دې فرصت نه ګټه واخلي.

حکومت د دې لپاره چې پر وړاندې یې شته ننګونې له مخې لرې کړي، باید وتوانیږي څو اغېزناک عمل وکړي. موجوده بې ثباته او خطرناک سیاسي وضعیت او د حکومت د دوو مشرانو ترمنځ نانډریو او کړکیچونو ته باید د پای ټکی کېښودل شي. په حکومت کې د اوږدمهاله ثبات رامنځته کولو لپاره باید یوه لاره پیدا شي.

د افغانستان لپاره په نړۍ کې د یو تر ټولو زیات په مرستو بسیا هېواد په توګه، دا ستونزمنه ده څو د جنګ جګړو په شتون کې ځان بسیاینې ته ورسېږي. هغه سرچینې او امکانات چې د افغانستان په پرمختګ او د خپلو خلکو سره په مرستو کولو کې باید ولګول شي، د شخړو او جګړو له امله بلې خوا ته ځي؛ نو ځکه سوله یوه شدیده اړتیا ده او دا یو ضروري امر دی څو د سولې راتلو لپاره ژر تر ژره او په جدي توګه لارې چارې ولټول شي.

ښاغلی رئیس،

اجازه راکړئ په لنډ ډول د روانو مثبتو هڅو په اړه خبرې وکړم چې موږ ته هیله راکوي.

د افغانستان لپاره دوامداره نړیوال ملاتړ حیاتي دی او د وارسا سرمشریزه افغانانو او د دولت ضد عناصرو ته دا پیغام ورکوي چې، نړیواله ټولنه به تر ۲۰۲۰ کال پورې د امنیت له سکتور څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکړي. افغان دولت اوس مهال د بروکسل کنفرانس ته چمتووالی نیسي، چې هلته به د افغانانو د پرمختګ لپاره د ملاتړ پر خورا مهمه مسله باندې غور وشي. حکومت په بروکسل کې د دې فرصت لري څو تر ۲۰۲۰ کال پورې په دغه کچه یا دې ته نږدې کچو، دوامداره پراختیایي مرستې ترلاسه کړي.

حکومت د سپټمبر په ۴ نېټه د ګډې همغږۍ او مدیریت بورډ په غونډه کې څرګنده کړه چې، د بروکسل کنفرانس لپاره چمتووالی په ښه توګه روان دی.

زه له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د ولسمشر غني د هر اړخیزې او اوږدمهاله تګلارې هرکلی کوم، چې د اداري فساد د مخنیوي لپاره اړینه طرحه جوړوي او عاملینو سره یې حساب کېږي. د اداري فساد پر وړاندې مبارزې عدلي مرکز ته د فساد د لومړنیو قضیو راجع کول د حکومت د ټینګ عزم او هوډ ښکارندویي کوي. بریالی او عادلانه عدلي تعقیب به پر حکومت د خلکو د باور لا زیاتولو لپاره تر ډېره دوام ومومي.

همدا راز زه غواړم د نورو اصلاحاتو او دوه اړخیزې حساب ورکونې ژمنتیاوو، په ځانګړې توګه د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ جوړولو او د عوایدو راټولولو په تړاو د کارکوونکو لخوا ټارل شوي مخکني پروګرام د غوره اجراأتو وروسته د پیسو نړیوال صندوق نوي پروګرام بریالي پرمخ وړلو په برخو کې د حکومت د دوامداره پرمختګ ستاینه وکړم.

دغه لاسته راوړنې د بروکسل کنفرانس لپاره یو کلک بنسټ جوړوي. د حکومت لخوا د پراختیایي کارونو او اقتصادي ودې او ثبات لپاره د ژمنتیا په څرګندولو سره، دوی دا باور ترلاسه کولای شي چې پراختیایي مرستې او تمویلونه به د باوري او اغېزناکو پلانونو لپاره کارول کېږي.

زه د بروکسل کنفرانس لپاره د حکومت د هر اړخیز لیدلوري ځانګړی هرکلی کوم. د ګډې همغږۍ او مدیریت بورډ په وروستۍ غونډه کې د بېوزلۍ راکمولو لپاره د حکومت پاملرنه په پراخه کچه وستایل شوه. لسیزو جګړو زیات شمېر ښځې کونډې او له زیانونو سره مخ کړې، او لکه څرنګه چې ولسمشر غني په یاد بورډ کې یادونه وکړه، ښځې د افغانانو د بېوزلۍ لومړنۍ نښې دي. له همدې امله، د بېوزلۍ راکمولو لپاره جدي پاملرنه مخلصانه هڅو ته اړتیا لري څو د سولې په ټینګښت او پرمختګ کې د ښځو وړتیاوې او ځواک لوړ شي. په دغو برخو کې د حکومت پلان جوړونه لا هم دوام لري او په بروکسل کې حاشیوي غونډه به د دغو پلانونو په اړه د ژورو بحثونو لپاره یو ارزښتناک فرصت وي. په ورته وخت کې، موږ د بروکسل بحثونو ته هم هیله مند یو چې تمرکز یې د سیمه ایزې همکارۍ پر زیاتوالي دی چې د سیمې د ثبات او هوساینې کیلي دي.

په بروکسل کې بریالي کېدل به د افغانستان د ځان بسیاینې په لور یوه بل مهم ګام وي.

ښاغلی رئیس،

د ملي یووالي حکومت دننه په هېواد او بهر دواړو کې له اساسي ننګونو سره مخ دی. امنیت او سیاسي ثبات یې سترې او بنسټیزې ننګونې دي.

د امنیت په برخه کې دا د افغانستان لپاره یو بل ستونزمن کال دی. په ټول هېواد کې ځای ځای شدیدې جګړې لا هم دوام لري، په داسې حال کې چې کابل هم د یو لړ وحشتناکو ځانمرګو بریدونو هدف ګرځېدلی دی. د ځینو ولایتونو مرکزونه لکه لښکرګاه، ترینکوټ او کندز ښار تر شدید فشار لاندې دي، خو یو هم تر اوسه سقوط شوي نه دي. افغان ملي دفاعي او امنیتي

ځواکونو د تېر کال په پرتله خورا اغېزناک غبرګون ښودلی دی او د تکتیکي عملیاتو په کولو سره په دې توانېدلي، څو د خپلې خاروې له زیاتې برخې څخه ساتنه وکړي.

که څه هم پر ملکیانو د جګړو اغېزې ډېرې زیاتې دي، خو زه باید په خواشینۍ سره دا ووایم چې یو ځل بیا کال په کال د ملکیانو په تلفاتو کې زیاتوالی لیدل کېږي. د نورو په پرتله د ماشومانو تلفات زیات دي، چې پکې ۱۸ سلنه زیاتوالی راغلی او په تېرو شپږو میاشتو کې ۳۸۸ ماشومان وژل شوي دي.

په کابل کې د جولای په ۲۳ نېټه پر یوه لاریون برید چې داعش یې پړه په غاړه واخیسته، یوه وحشتناکه پېښه وه چې ۸۵ ملکیان پکې ووژل شول. حکومت د بشپړې څېړنې ژمنه کړې، او یوناما به د خپلو تحقیقاتو موندنې له اړوندو ښکیلو شریکانو سره شریکې کړي.

زه باید یو ځل بیا ټولو لورو ته یادونه وکړم چې د جګړې ټول ښکیل لوري دې د بشري حقونو او بشرپالنې نړیوال قانون په چوکاټ کې خپل مکلفیتونه په جدي ډول رعایت کړي او د انسانانو ژوند تر بل هر څه پورته وګڼي، او د ملکیانو، ښځو او په ځانګړې توګه ماشومانو خوندیتوب پر وړاندې خپله ژمنتیا په ښه توګه ثابته کړي. د دغو ژمنو څخه د سرغړونو لپاره حساب ورکونه کمه ده او باید ټولې خواوې دغه ډول حساب ورکونه زیاته کړي.

ښاغلی رئیس،

په دې وروستیو کې د جګړو له امله د نویو بې ځایه شوو خلکو او له پاکستان څخه د راستنېدونکو افغان کورنیو شمېر زیات شوی دی. که دا وضعیت همداسې دوام ومومي، افغانستان به ونشي کولای د لږ تر لږه یو میلیون بې ځایه کېدونکو خلکو اړتیاوې پوره کړي، ځکه دا کار په زیاته کچه مرستو ته اړتیا لري او پر زیاتو اړینو روغتیایي او ټولنیزو خدماتو باندې لا زیات فشار اچوي. که په دې برخه کې ژر تر ژره اقدامات ترسره نشي، په زرګونه کورنیو ته به په ژمي کې کافي سرپناه او مرستې ونه رسېږي.

ښاغلی رئیس،

که حکومت په داخل کې پاشلی وي، هیڅ ډول ګټورې پالیسۍ ګټه نه کوي. د حکومت دننه کړکیچونه او ناندرۍ راپورته شوي، چې اجرائیه رئیس د نوموړي په نظر د ۲۰۱۴ کال سیاسي توافق د نیمګړي تطبیق په اړه ښکاره نیوکه کړې ده. دواړو مشرانو له دې نیوکې وروسته څو ځلې لیده کاته کړي څو دغه ستونزې په ګوته او حل لارې ورته پیدا کړي. لا هم په دې اړه هڅې روانې دي او تمه کېږي چې د دواړو ترمنځ به نورې لیدنې هم وشي.

د ملي یووالي حکومت په یو ټاکونکي حالت کې دی او د یو معقول او نرمښت لرونکي جوړجاړي او ریښتیني حکومتولۍ حس څرګندولو له لارې باید د مخکې تګ لپاره لاره پیدا شي. دواړو مشرانو ته پکار ده څو یوه داسې حل لاره ومومي چې د لنډ مهال او اوږدمهال لپاره د حکومتي چارو سرته رسولو لپاره لاره هواره کړي. افغانستان سیاسي بې ثباتي نشي زغملی او دواړه مشران باید د افغانستان خلکو او نړیوالې ټولنې ته دا روښانه کړي، چې دوی کولای شي حکومتي چارې په اغېزناکه توګه اداره کړي.

په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ کال د سیاسي هوکړې چې په پایله کې یې د ملي یووالي حکومت رامنځته شو، دوه کاله په پوره کېدو دي، خو سیاسي اپوزیسیونونو تر ډېره د دې حکومت مشروعیت ننګولی دی.

سياسي اجنډا بايد په رغنده توګه دوام ومومي او سياسي ثبات بايد دوام ومومي، او ټاکنې ترسره شي. د ولسمشر لخوا په دې وروستيو کې د ټاکنيزو اصلاحاتو لپاره د تقنيني فرمان لاسليکول په دې برخه کې يو رغنده پرمختګ دی.

نړيواله ټولنه د ملي يووالي حکومت ملاتړ ته خورا ژمنه ده او په دوامداره ثبات او اغېزناکتيا سره بې بيا هم د ملاتړ ډاډ ورکوي.

ښاغلی رئيس،

سوله د افغانستان لپاره يوه اړتيا ده؛ له سولې پرته به افغانستان له ستونزو سره مخ شي او اقتصادي وده او هوساينه به په حقيقت بدل نشي.

طالبانو لا هم د سولې بهير پر وړاندې خپله ښکاره ژمنتيا نده ښودلې، سره له دې چې د ولسمشر غني او نړيوالې ټولنې لخوا ورته د تعامل زيات وړانديزونه شوي دي.

په سړني اوړي کې شديدو جګړو دا وښودله چې، دا جګړه د لاسته راوړنو او شاتګ، د پرمختګ پر ځای د ويجاړۍ او د افغان ملکي وګړو لپاره د دوامداره کړاوونو يوه نه ختميدونکې دوره ده.

زه په کلکه هيله مند يم چې، د ژمي په رانږدې کېدو سره چې د جګړې شدت هم کمېږي، طالبان به د افغانستان له حکومت سره خبرو اترو ته خپله ليوالتيا وښيي.

د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ روانه هوکړه دا څرګندوي، چې حکومت د مذاکراتو په اړه ريښتينی دی. تجربو ښودلې چې د سولې بهيرونه مياشتې او آن کلونه وخت نيسي. د حکومت او طالبانو ترمنځ د باور فضاء رامنځته کولو لپاره بايد اقدامات ترسره شي، څو د پايداره خبرو اترو لپاره لارې چارې برابرې شي. هر څومره ژر چې دا بهير پيل شي، هومره به د افغانانو کړاوونه راکم شي.

زه د دې لپاره په دواړو خواوو باندې په کلکه غږ کوم چې په خپل منځ کې سره کېني او د افغانستان لپاره يوه تلپاتې سوله رامنځته کړي.

ښاغلی رئيس،

افغانستان د تېرو پنځلسو کلونو لاسته راوړنو د لا زياتولو او د ثبات او ځان بسياينې په لور ګام اخيستلو لپاره يو فرصت په لاس کې لري. د اغېزناکې حکومتولۍ په کولو او د نړيوالې ټولنې د دوامداره ملاتړ په شتون کې د برياليي کېدو فرصت خورا ډېر دی.

له پاملرنې نه مو ډېره مننه.

***